# د ملا جانان د قلمي ديوان " ارمان جانان' د نسخې يو څېړنيز جاج

## A Research Review of the Manuscript of Mullah Janan's Diwan "Arman e Janan"

**Dr Abdul Rauf Rafiqui** [1]

abdulraufrafiqui1@gmail.com

0092 3337817768

Issn 2304-1463

## Abstract

Mullah Janan Kakar Kandahari was an important poet of the Kandahar Poetry School. His Diwan has not yet been published. The only manuscript manuscript we have in our possession that encompasses various poetic genres of Pashto poetry. His poetry, along with art, includes social, scientific, literary, critical, and social themes. Mullah Janan, along with his romantic love poetry in Arman Janan, has taken into account the overall issues of social reform and reconstruction and has made his best contribution to the Afghan Renaissance.

After the Afghan Revolution, Afghanistan's academic capital, among other things, suffered great damage. There is no doubt that the discovery of this manuscript of Mullah Janan's Diwan will be a valuable addition to the body of Pashto poetic texts.

**Key words:** Mullah Janan Kakar, Diwan, Pashto Poetry,

د "ارمان جانان" شاعر ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهارى د د پښتو شعر د کندهاري دبستان له مشهوره شاعرانو څخه وو چي د کندهار پر علمي ، ادبي،اولسي او ښوونيز افق تر ډيره په آب و تاب ځليدى مشهور عالم، نوموتى شاعر، تکړه استاد او مخور اولسي شخصيت وو په پښتو او فارسي يي نظم او نثر ليکى احوال او آثار يي په لنډه توګه په دې ډول دي

ملا محمد شريف يي نوم جانان يي تخلص او مشهور په ملا جانان په ختېه سنځرخېل کاکړوو د کندهار د اسحاقزو په کوڅه کي زوکړى د کاکړو په کوڅه کي يي ژوند تير کړى وو

---

1 Director Iqbal Academy Pakistan Lahore

"د ملا عبدالعزیز مشهور په صوفي کاکا زوی د ملا عبدالسلام لمسی د ملامهربان کړوسی د ملا راحت کوسی او د ملا اختر کودی وو ملا اختر د سدو زوی د سید لمسی دی شجره یي په دې ډول ده علي زی، ابراهیم زی اخترزی سیدزی، سدوزی علي زی سنځرخیل کاکړ" (۱)

ملاجانان چون پخپله تکړه لیکوال او شاعر وو نو له هم دې کبله یي خپل هر څه پخپله یاداښت کړي دي

"زوکړه ۱۳۱۴ ه ق کندهار د اسحاقزو کوڅه مړینه ۲۲ ۱سد ۱۳۶۴ه ش ښخ د چمن زړه د برات خان هدیره" (۲)

له کوچنوالی ځیرک او ذکي شوی دی او هسي هم کندهار په هغه عصر کي یوه لرغونې علمي ځانګو وه د سیمي علما به زیاتره له هغه ځایه رافارغیده

"د خپل زیات شوق او طبعي استعداد په مرسته یي لیکل لوستل مذهبي او دیني علوم ریاضیات، صرف ، نحو ، تفاسیر ، فقه او نور د زلمیتوب په لومړی دوره کي د خپل ورور ملا محمد شفیع څخه چي د کندهار ښار یو لوی عالم وو په لوړه درجه زده کړه (۳)

په عملي ژوند کي ملا جانان ځان ته د ښوونکي مقدسه دنده غوره کړه او په اماني دوري کي ښوونکی وټاکل شو

"کله چي تجارتي ښوونځی په لومړی ځل په کندهار کي تاسیس شوه ښاغلی جانان هلته په ښوونه او روزنه مقرر شو دینیات، فارسي، پښتو ، عربي، حساب، تاریخ ، جغرافیه او نور مضامین یي درس ورکاوه" (۴)

هم دغه ډول د ملاجانان د کندهار په بیلا بیلو ښونیزو ادارو کي ټاکني دوام لري

"وروسته په احمدشاهي او تیمورشاهي ښوونځیو کي ښوونکی مقرر شو یو وار کندهار ته نژدې د کدني په سیمه کي د سر ښوونکي په حیث هم مقرر شوی دی" (۵)

له دې پس ملاجانان اخوند د ژوند تر پایه د کندهار په بیلا بیلو لیسو او ښونیځو ادارو کي د ښووني دغه پیغمبرانه مسلک په مخه اخیستی وو تر څو په افغانستان کي د ثور خونړی فاجعه رامنځ ته کیږي او د میلینونو افغانانو په څیر ملا جانان هم کډوالی ته اړیږي او چمن ته خپله ساه رارسوي یو څو میاشتي پس هم دلته په چمن کي ساه و رب العالمین ته سپاري او هم د قبر اعزاز یي د چمن په وندړه رسیږي

ملا جانان اخوند یو شمیر آثار لرل چي ځیني یي په دې ډول دي

(الف) چاپ آثار

(۱) بهار جانان ، د بيلابيلو شاعرانو کلامونه ، چاپ مولوي عبدالله عيشي کتب فروش هرات صابر مطبع لاهور ۱۳۵۰ ه ق

(۲)اکبرنامه،فارسي ويونکی حميد کشميري، پښتو منظومه ژباړه ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهاري سمونه، څېړنه او تعليقات ډاکټر عبدالروف رفيقي چاپ ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز کاسي روډ کوټه۲۰۱۱

(۳)دحج شريف احکام ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهاری پېژندنه او څېړنه ډاکټر عبدالروف رفيقي ، چاپ حبيبي اکادمۍ چمن فروري ۱۹۹۶ز ۱۳۷۶ه ش

(۴)ګلزار محبوبان ، د بيلابيلو شاعرانو کلامونه ، چاپ مولوي عبدالله عيشي کتب فروش هرات صابر مطبع لاهور ۱۳۵۰ ه ق

(۵)زين البيان ، ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهاری سريزه او سمون ډاکټر عبدالروف رفيقي چاپ ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز کاسي روډ کوټه ۲۰۱۰

ناچاپه

(۱)عبرت نامه (منظومه او منثوره پښتو)

(۲)صفات نامه، پښتو منظومه (۶)

(۳) پښتو تفسير د قران کريم پښتو ژباړه او تفسير نيمګړی اثر

(۴)ارمان جانان يا ديوان ملاجانان

د ملاجانان دغه ارمان جانان

متون که شعري وي که نثري د يوې ژبې د علمي غنا او بډايني د پاره دليل ګرځي په دغه متونو کي که يوې خوا ته د هغه ژبې محاوري ، متلونه او لغتونه خوندي کيږي نو و بلي خوا ته د هغه ليکوال يا شاعر د وخت او حالاتو پيښې، ځايونه، نوميالي ، وغيره ذکر شوي وي د هغو يادونه کي کيږي په هغه وخت کي د دغه شاعر يا اديب تر مطالعه کوم کوم آثار لاندي وو د هغو نومونه، مشمولات او موضوعات کي راغلي وي د هغه وخت علمي، ادبي،سياسي، تجارتي او ټولنيزه وغيره اوضاع څه ډول وه د اولس د دين خوا ته څومره رجوع وه سياسياتو کوم ارتقايي پړاونه را پرې کړي وو اقتصاد پر کوم ښکر ولاړ وو د خلګو يو له بل سره برخود څه ډول وو وغيره په متونون کي خوندي له پيړيو راروان و پېړيو ته سپارل کيږي.

"ارمان جانان" د ملا جانان کاکړ کندهاري شعري مرتب کړی ديوان دی چي تر اوسه نه دی چاپ شوی کله چي په افغانستان کي د ثور د خونړي اوښتون پس کوم تحولات رامنځ ته شوه او ملا جانان اخوند له

کندهاره چمن ته راکډه شو او هم دلته په حق ورسېدی نو د ملاجانان یکي یوې لور خدای بخښلي رابعې کاکړې له ما (رفیقي) سره تماس و نیو چې کډه مو په شا ده د ژوند ملګری مې بیسواده دی او زما د پلار ځیني آثار له ما سره خوندي دي ستاسو علمي ادبي هڅي ځارم نو غواړم چې دغه څه تر تاسو در ورسوم تر څو د حالاتو د ناخوالو شومه نه شي او په علمي دنیا کي په ښه ډول زیرمه شي ما یي علمي پیرزویني ته خورا تود هرکلي ووایه په دې آثارو کي مې ځیني د خپل څېړنیز کار سره تر اوسه چاپ کړې دي لکه اکبرنامه، زین البیان، د حج شریف احکام او اوس دا دی ارمان جانان په تاسو پیژنم

د "ارمان جانان" خطي نسخه۶۶۱ مخونه لري سائز یي اوږده۸ پسور ۳.۶ او متن یي اوږده ۷پسور ۱.۵انچه دی او په هر مخ کي یي۱۸ کرښي دي د نسخې حالت خوندور دی کلکه وقایه لري او په تور رنګ لیکل شوې ده بیخي لږ مخونه یي په شنه رنګ هم لیکل شوي دي د دې نسخې تر ټولو ارزښتمن اړخ دا دی چې دا په نړۍ کي یواځنۍ نسخه ده او هغه هم د شاعر د خپل لاس لیکلې.

"ارمان جانان" په مردف ډول د پښتو شعر بیلا بیل اصناف په ځان کي رانغاړي لکه غزل، رباعي، مخمس ،مسدس، مثمن، مثنوي، نظمونه ، نشرحې وغیره چې شمیره یي پنځه سوه یوکم شپیته ته رسیږي او هم دا ډول نهه عنوانه فارسي کلامونه غزل، مناجات او نشرح لري چې دا ډول د ارمان جانان د ټولو کلامونو شمیره ۵۷۸ ته رسیږي

ملا جانان له نن څخه سل کاله وړاندي شاعري پیل کړې وه او د خپلو لومړنیو ابیاتو په باب یي دامنظوم یاداښت په ارمان جانان کي خوندي کړی دی "زما لومړني ابیات، په ۱۳۰۳ / کال کښې په روژه د ۲۷ په شپه ویل سوي دي دخرقې مبارکي څخه راتلم پرلاري مي جوړ کړه "

سپره غزل - د پردل دغزلي جوړه

| | |
|---|---|
| عیسی علیه السلام چې خدای پېدا کړئ بې له پلاره | تفسیربې درته وکړم چې عالم سي خبرداره |
| سودا دعاشقۍ یارانومې بولۍ آسانه | هرچیري چې عاشق همیشه وي سرګردانه |
| سودا دعاشقۍ ده هزاران دي عاشقان | درب یې نازبرداره بل معشوق یې دسبحان(۷) |

ملا جانان اخوند د شعر په کوڅه کي قدم ایږدي او د خپل دغه ارتقایي سیر په دوران کي په شعر کي ډول ډول تجربې تر سره کوي د شعر په بیلا بیلو اصنافو کي یي طبع ازمایي کوي ترڅو یو مربوط دیوان یي د "ارمان جانان" په نوم مرتب کړی دی او ورسره بیا ملا جانان اخوند د خپل دیوان د مرتب کولو سبب هم یاد کړی دی او دا یي ښوولي دي چې هغه کوم عوامل وه چې له کبله یي ما دا اثر ولیکی

دکتاب ارمان جانان د تالیف سبب

| | |
|---|---|
| دا کتاب مي کړی تیار د دې د پاره | غوږ پر ونیسه آ زما شرینه یاره |
| دنیا کښت و کرونده د آخرت ده | څه توښه سبا ضرور ده زموږ د پاره |
| هغه څوک چې هوښیاران او عاقلان وي | دځان غم خوري که په شپه وي که سهاره |

څوک خیرات کړي څوک روژې نیسي نفلونه
څوک ځي حج له عذر کړي له خپل باداره

څوک د دین کومک کوي پر شرع سم وي
څوک په درود و په دعا یا استغفاره

څوک مسجد او پل او څاه آبادوي
څوک توښنه مېوه سایه کړي د اشجاره

څوک د خولې و لاس و د روپو کړي
څوک په علم سره خلګ کړي دینداره

څوک شافع سي مظلوم خلاص کړي له ظالمه
څوک و تیل و بوریا ته وي بیداره

څوک بیا وي چي لري خلګ تر لاس لاندي
نازوي یې زور یې وړي نې کړي آزاره

څوک زیارت کړي د قبرڅوک حافظان سي
څوک په ښه نیت له ګناه سي پرهېزګاره

څوک کوي خدمت د ښو خلګو بې وزلو
څوک په عشق ځان رسوي ګرزي بیماره

څوک زاهدڅوک وي عابدڅوک رشتیاویې
څوک پر بد قادر سي بد نه کړي دلداره

څوک تصنیف کړي څوک تالیف څوک سي چاپګر
مقصدهرڅوک په هر نوع کړي ښه کاره

وایې چي خلاص سم د سباد کشماکشه
او روزي مي سي رضا جنت دیداره

مګر څوک بیا نفس شیطان د حقه دورکړي
کرونده وکښت د خوارکړي ورخارداره

بیا هم عذر کوي ژاړي و خالق ته
کې پرچم سره سپک سو ها دروند باره

مدعا هر چا توښنه مطلب د ځان کړه
ما چي وکتل په ځان وم ډېر بې کاره

نه توښنه نه مي یو څوری ولید ځان ته
نه د ښو اعمالو زۀ وم بهرداره

په ورطه کښې د حیرت ولوېدم بند زۀ
نفس شیطان کړمه بې راه پر سر غوځاره

ناعلاجه یې په رحمت وځنګېدمه
عنایت او بهانې تې امیدواره

په هر نوع چي په عقل معذرت وي
خپل خالق ته به کومه اعتذاره

ورته وایم ملامت یم ملامت یم
ته ما عفوه کړۀ زما پروردګاره

دا د عشق او محبت هم عجب کور دی
د عاشق دعا ته هم شوم انتظاره

دا کتاب مي ورته جوړ کړ یو سبب
ګوندي سوی زړه مي و ړغوري له ناره

که څه هم تر دي د مخه شیان جوړشوي
یا نشرح بهار جانان بیت د اخیاره

دا توښنۀ کتاب چي اوس مي ورته جوړکړ
په کښې جمع مي کړه ښه خواږه اشعاره

دا هم خاص په دغه هیله منتظم سو
چي به یاد سم په دعا د زړه افګاره

په ارمان جانان دغه مسمی سو
هم محبوب د عاشقانو ده دینداره

په دې کښت کښې د دنیا دا یو نهال سو
د ثمر یې په عقبی یم طمع داره

زما په خیال مي ښه کتاب کړئ سره جمع
ښه الفاظ او ښه تنظیم ښه معنی داره

که په سترګه د اخلاص او جوش کاته سي
ګویا عیني یوه باغچه ده د ګلزاره

او که بیا چیري منکر ورباندي پېښ سي
هېڅ پروا نه سته هر ځای سته یو اغیاره

زما اصلي غرض تفریح ده ددوستانو دا کتاب د محبت دی نه انکاره
د نامه او د سنې پنځه پنځه بې دواړه یوشي په عدد سره یې شماره
جانان غواړي چي سي مړ په محبت کي او خپل رو لره د حق وي طرفداره(۸)

د دې منظومي پس یې د شعر او شاعرۍ دنیا ته د خپل راتګ او ورسره یې د شعر له کوښې د خپل نثر لیکلو داستان هم منظوم کړی دی او دا یې ویلي دي چې څه ډول د شهرت تر بامه ورسېدم او وزیر محمد ګل خان وروغوښتلم تشویق یې کړم د شعر او ادب له لاري پر کومو لوړو ژورو ورغلم څه راباندي تېر شوه او څه مي و ګالل او بیا مي څه څه تر سره کړه

وایم چي نې لرمه شوق د دې عزت او د ننګ پر زړه یې کړم ځورنګ
حاصل بې هېڅ شئ نوي او زحمت یې په ځورنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
ناپوه وم شاعر سومه بیتونه مي کړه ساز د نقل کړم آغاز
سنه یو زر او درې سوه درې شمسي وه هغه رنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
محبت چي مي کاوه زړۀ مي تنګ سو له فراقه د دید په اشتیاقه
دا هم د یوه رفیق اثر چي زې تلمه پر څنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
نو ما کړه سره جمعه څه بیتونه د بل خپل پښېمان یم پر ویل
نثري و کتابونه و نعرې مي رنګ په رنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
مشهور سومه معروف سوم حال مي ورغئ هرځوان ته وزیر محمد ګل خان ته
وروې غوښتم دربار ته قلقلې مي وې په شرنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
ما وویل چي چا منده چي مانده متل دی عزت حرمت مي خپل دی
په خپل ځان خبر نه وم چي د پښو به وي شلیدنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
په توره شپه په ختو کښې دربار ته یې ببولم سپاهې به ځغلولم
چي ورغلم وزیر صاحب ول شاباش یې پلنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
څو میاشتې دغه حال ؤ نتیجه یې وه ستړیا امداد یې ناروا
په پای کښې مي ول ربه خلاصوه مي له دې چنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
وزیر صاحب چي ولاړئ بیا نائب غلام فاروق خان وو تر ګټې ډېر تاوان ؤ
سردار داود شاه خان راله رانه کړئ یو کلنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
چي ډېر پر معتبر ومه سردارعلیشاه خان ؤ تر ډېرو مهربان ؤ
په باغ کښې د فرقې مي د غوماشو وو کوټنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
یولس کاله بعد چي مي خدمت کړ اختیار انعام سو راته تیار
راغلئ یو هیئت دی د کابل د دې مزنګ پر زړه یې کړم ځورنګ
یو دوې کتابچې راکړې ول دا دي جائزۀ ده و تا ته لو تحفه ده

قیمت یې سو پنځه نمک د هغه زبر رنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ
ډوډۍ مي د بازاره وه په باغ کښي ماخستن سو      د هر دکان تړن سو
تش لاس ؤ ناوخته تګ وو د غمو دائره وړنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ
بیا بویې تلم وباغ ته د سردې چي یخ کشته کړم      پلوس هم سرکافته کړم
یو غاز حسد، پنځویشت شاباسیه اوري دنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ
بیا ورمي کړۀ اخبار ته څه بیتونه د کنټرول      مستوفي کړمه ملول
په سره غرمه ول راسه سید حسین کاؤه جنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ
بیا ورمي کړه بیتونه نصیحت د طبیبانو      غوږ ونیسۍ دوستانو
سوه توله سره جمع زما پر مرګ یې سو وهنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ
دا ټوله چي مي ولدو ببزاره د بیتو سوم      ویونکی د توبو سوم
په غار به ننوزم چي ونه سي دیدنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ
اشنایه چي وتاته مي اظهار دا نمونه کړه      عبرت یې نشانه کړه
جانان په شفقت کي درته سور دغه آهنګ      پر زړه یې کړم ځورنګ(۹)

د ملا جانان د هر اړخیز شاعرانه، استادانه او مجتهدانه شخصیت اعتراف د هغه معاصرو علماو او فضلاو هم کړی وو لکه پخپله د"طلوع افغان" کندهار باني چلونکي مولوي صالح محمد هوتک په خپله یوه اوږده منظومه " د پښتو ږغ په قندهار کي" کي راوړی دی دغه منظومه ښاغلي هوتک صاحب د وزیر صاحب داخله محمد ګل خان رئیس تنظیمه د کندهار په وړاندي په کندهار کي په ۱۸ قوس ۱۳۱۱ه ش ویلي وه او وروسته د فاضل هوتک صاحب دغه اوږده منظومه د هغه په اثر " پاشلي وینااوي" کي چاپ شوه منظومه خو ډیره اوږده ده خو زه فقط هغه کړۍ راوړم په کوم کي چي د ملا جانان اخوند یادونه راغلې ده

سید رسول ښه شاعران لرمه      مسلم او بل رحمت الله خان لرمه
زه په مکتب کي ملا جانان لرمه   بل په کوهک کي حمید خان لرمه
په ننګرهار کي شاعران لرونه      هم خورا ډېر ښه ادیبان لرونه

د دغه شعر په لمن لیک کي فاضل څېړونکی ښاغلي محمد معصوم هوتک د ملا جانان یادونه په دې ټکو کوي "ملا جانان د کندهار له پخوانیو ښوونکو څخه دی د عمر په آخر کي د زرغونې انا په لیسه کي ښوونکی وو په پښتو یې ښه شعر وایه" (۱۰)

هم دغه ډول د کندهار یو بل روڼ اندی علمي، ادبي، سیاسي او ټولنیز شخصیت ښاغلی عبدالرحیم هاتف و ملا جانان د د خپلي کورنۍ د درو نسلونو د استاد خطاب ورکوي او خدای بخښلی په خپل ژوند لیک کي لیکي

" زما له پلاره ملا جانان (شیخ المعلمین) د درو نسلو استاد وو پلار مي چي په لوړ سن يي مکتب شروع کړی وو ملا جانان يي معلم وو زه چي په کښته سن کي مي مکتب شروع کړی وو زما معلم وو او هم دا رنګه د زرغوني انا په ليسه کي زما د لور معلم وو ده پر موږ حق درلود چي يو مکتب د ده په نوم نومول شوی وای او د ده عکسونه په هغه مکاتيبو کي چي ده تدريس په کي کاوه د ده د احترام په خاطر په کي ځوړند شوي وای خو داسي ونه شول د معارف سره د جنګ په دوره کي يي هم خپل شغل ته ادامه ورکړه او په مهاجرت او جلاوطنۍ کي مړ شو" (۱۱)

هسي خو وخت په وخت د ملا جانان اخوند په باب موږ ډيري خاطرې وينو لکه پخپله د روڼ اندي ليکوال او درونډ شخصيت عبدالظاهر څرک او د ځينو نورو منورينو ياداښتونه په خواله رسنيو کي ترسترګو کيږي خو دلته چي موږ کومي دوې حوالې راوړې يوه تر ملا جانان د مشر شخصيت معتبره حواله وه چي هغه يي په کي د ملا جانان د درانه شخصيت ستاينه کي کړې ده او دوهمه د هغه د يوه شاګرد ارواښاد عبدالرحيم هاتف چي وروسته بيا په بيلا بيلو معناوو تر ډيرو لوړو ځايونو رسېدلی وو د هغه وياړنه او خاطره ده چي ملا جانان اخوند ته يي وړاندي کړې ده دا په دې معنی چي دلته دا کتل په کار دي چي د ملا جانان و شخصيت ته هغه وخت لا هم مشران او کشران په څومره درناوي قائل وو او حتی خدای بخښلی هاتف صاحب خو تر دې حده رسېدلی دی چي بايد کوم مکتب د ملاجانان اخوند په نوم ونومول شي نو هاتف صاحب ستاسو ارواح دي ښاد وي د خپل فاضل استاد ملا جانان د ارواح او ټولو مرحومينو د ارواحو سره اوس شکرالحمدالله زموږ د ويشتيا پيير پيل شوی دی هغه وخت ليري نه دی چي نه يواځي به ستاسو دغه نيمه خوا وړانديز ته هر کلی وويل شي بلکه د ملا جانان د مجموعي علمي ادبي خدماتو په ستاينه به د مکاتبو سره سره ښايي کتابتونونه او حتی واټونه به هم د ملا جانان اخوند په نامه ونومول شي

زموږ دغه درانه شخصيت ملا جانان اخوند د شعر څخه د هنر تر څنګ د ټولني د اصلاح کار اخيستی دی ملا جانان يو ريفارمستې دی چي مدام د ټولني د بيا رغوني په فکر دی او هر وخت د ټولني د نوي رغښت لاري چاري څاري دشعري قريحې او د هغه څخه د ټولني د اصلاح د ستر کار اخيستلو اعتراف دا ډول کوي

که ووايې په دقت دا زما بيتونه حقيقت به درمعلوم سي له مضمونه
چي عرض مي بې ښه والي ستا بل نسته هسي نه چي کړم بد د خلګو زړونه
حقيقت په محبت درته بيان کړم که يو ورور وي ناخبر په ښه خويونه
اما هو د حق ويل قدري ترخه دي درته فرض کړي په زړه کښي فسادونه
يوبدخوی چي په دماغ کښي دچا کښېبووت او يو بل کم عقله يې وکړه صفتونه
هوښياران ناست په خزو کښي ورته ګوري وايې عجب چي سره کاندي بيانونه
په دماغ کښي يې بد خوی ته ځای ورکړئ هغه بل يې هم صفت کړي په لمسونه
ډېر وګړي د بدخوی په مرګ رضا وي اوازهٔ چي يې سي د مرګ کړي فرحتونه

اما دی نو غولیدلی په صفت وي په دا خپل بدخوی کښي نه وهي فکرونه
زۀ ددوی دوو په مابین کښي مصلح سم په کتاب ورفیصله کړم ګمانونه
د هوشیار او د بیعقل تل خلاف سته ای جانانه! سته درې یم ته احتاجونه(۱۲)

که یي په کلامونو کي هندي موسیقۍ طرزونه او الاپونه تشکیل کړي دې خو د شعر څخه یي د هنري ښکلا په نسبت د ټولني د نوي رغښت کار اخیستی دی اولس ښو ته امر کوي او له بدو یي د راګرځولو پوره پوره هڅه په کار اچولې ده

په دې دیوان کي موږ دا سي یو شمیر عنوانونه وینو په کوم کي چي ملاجانان په خپله خوږه ، پسته ، روانه او ساده کندهارۍ لهجه اولس ته د ښو لارو ترغیب کوي چي په هغو کي ځیني عنوانوه په دې ډول دي لکه

و ښې لاري ته بلل، رښتیا ، د ګټي خبري،مه کوه په چا و به شي په تا ،د ښې سوانح ساتنه،بې عمله رتبه،د ښو تاثیر ،د یو والي رېغ،د مسلم معنی ،د خیر کارونه کوه ،د بې وزلانو سره مرسته،عرض و علماؤ ته د امت،عرض و مشائخو او ساداتو ت ته د امت،نتیجه د کاهلي فقر وخواري ده، ،د زړه او خولې یو والی،پرحیواناتو زړه سوی،د قناعت ښېګڼې،د ښې وینا تشویق،وینا ،اخلاقیات، دنیا ،حلم او ښۀ خوی،د بل په صفت مه غولېږه ،ښۀ ملګری،د ښو او بدو نتیجه وغیره

ملاجانان د زاهد خشک په ډول یوائي هغه پندونه او نصیحتونه نه کوي چي یوائي د مومن آخرت په ښائسته کیږي بلکه اولس و دې ته هم تشویقوي چي په هغو کارونو یي د آخرت سره سره دنیا هم ښائسته کیږي مثلا دا وخت د ماحول د ککنوالي په ضد د چاپیر د خواپاکۍ موضوع یوه نړیواله موضوع ده چي حتی ملل متحد په دغه لړ کي په نړیواله کچه ډیره بودیجه هم لګوي خو ملا جانان اخوند د خپل ځراکت پر بنیاد هغه وخت لا دا خبره درک کړې وه او یو نظم یي لیکلی وو د نهال اینښوولو شېګڼي او اوس تاسو فکر وکړی چي د نهال د اینښوولو څومره ښیګړي دي د دې نظم سره سره یي په یوه بل شعر کي کمال کړی دی د یو شمیر ګلانو نومونه یي راوړي دي چي زه بیخي فکر نه کوم چي د پښتو کوم بل شاعر دي دا ډول ابتکار کړی وي چي د دومره ګلانو نومونه دې په یوه منظومه کي رایو ځای کړي وي

ښه ښه ګلان اکثر په دې وخت کښي رسیږي سنبل ، ارغوان ، شبو ځلیږي
ګل دغاټول اودپتوني چي دسته کیږي دا سپین چنبېلي مي ډیر یادیږي
ګل لاله ونسترن کړمه حیرانه راکړی یې نعمت دی فراوانه
بل ګل فرش و نیلوفر و عباسي دی نرګس ریحان و بل داودي دی
هم ګل ګلاب و پلاکس او جعفري دی همشه بهار ژړ چنبېلي دی
بیا نو اکوک او الوچه شیرین توتانه راکړی یې نعمت دی فراوانه
توت بې دانه تر وتازۀ بل کشمشي دی بل توت پر کبک بل پلوي دی

خنکانه شاتوت بل کابلي دی / خلنج وتور توت بل پنبیي دی
په شوق نېولې يې ځولۍ دي پرمیدانه / راکړی يې نعمت دی فراوانه
اشانه راسه رب راکړي زردالو دي / چارمغز و کیئ او بل نري دي
شکرپاره الو بخارا او شفتالو دي / شلیل هم رنګین الوبالو دي
ناک و امردوسېب وانار وبهي ګانه / راکړی يې نعمت دی فراوانه
دګل ګلابو وخت چي تېرسو خشکابه ده / ښۀ ځای دتفریح کشمش خانه ده
دخالچینو وخت عجبه تماشۀ ده / پرځنګ يې جوه بیا دروچي ده
پیاله انځر خوره کلچ اباد تر تلوکانه / راکړی يې نعمت دی فراوانه
اشاني راسه رب راکړي شه انګوردي / کشمش سره اوسپین هیته معمور دي
بل ټنډان و حسیني لعل لا نور دي / رنګین تر ګلاب صاحبي زور دي
پر شخلي عسلي مښلي دوه شنډانه / راکړی يې نعمت دی فراوانه
اشنایه راسي رب راکړی کلمک دي / شیرین خلیلي ترکاڼي کلک دي
شونډوخاني وتوران هم دمزو ډک دي / انګور عسکري خورا نازک دي(۱۳)

اوس نو ګلان که یوې خواته د کندهار د حوزې د طبیعي ذوق ښکارندویه دي نو و بلې خوا ته په عمومي ډول د انسان په فطري ذوق او شوق کې بشاشت رامنځ ته کوي انسان خوښي احساسوي اور رحم ته يې زړه مائلیږي

په دې دیوان کې تاسو بیحسابه هغه کلام لیدلای شی چې په کې که ملا جانان یوې خوا ته د ملا جانان زمونږ د ټولنې هغه آئینه فروش ښکاري چې پر وخت يې و هر چاته د هغه اصله څهره د خپل عمل په آئینه کې ورښکاره کړې دي نو وبلې خوا ته يې د هغه تشو د ډکولو لاري هم په پام کې نیولې دي لکه یو شعر "د پوهنې ګټې او د ناپوهۍ اضرار"

علم ګټي لري ځان کړه خبردار / بې علمي تر حده تېر لري اضرار
اولاد استوه ښونځي ته په تلوار / که راحت د ځان او دوست دي وي په کار
دا خبر پخه ده نه ده سر سري / دلایل ډېر په معقول صورت لري
په پوهنه پېدا کېږي سمي لار / د پوهني خاوند ډېر وي کمالدار
حق وق پېژني د حق وي طرفدار / پر سم رو کوي ادب نه کړي آزار
خدای رسول باچا له ده څه وي رضا / مور وپلار خلګ يې ګرده کړي دعا
او که علم نه وو پېښبه ور ته دا / جاهل نه پېژني هېڅ حق د چا
ځني جوړ سي يوه عجبه لو بلا / دی بې زوی وي د بډا یا ګدا
اوس د دواړو حال وګوره د عبرت / څخه څنګه به دي زړه په حسرت

د بډای زوی چې راپورته سو جاهل
ګرده ورځ به ځغلوي موټر سایکل
یا یو پنډ بې ځایه وایي دلایل
په شهوت کښې سره ګډ حق وباطل
د پلار مرګ وي همېشه د ده دعا
د عنوان طرف يې خوښ وي تر معنی
پلار یې بخل کاوه دی بیا مبذر وي
نه تیریږي پر هر بدو چې قادر وي
خوښې دا چې په فساد کښې دی ماهر وي
پلار یې خان وو دده خوښه چې شاطر وي
مقصد هر سپک کار چې وي د رزالت
افتخار په کوي بولي سعادت
بیا دخوار زوی چې سو لوی او دخپل سر
کمال نه سته مفلس هم سو دربدر
قمار بازۀ بچه بازۀ کیسه بر
یا چرسي یا غل یا وي محض سوډر
هرمجلس کښې ټوله خلګ باندي خاندي
په مجلس کښې مړ سي مور يې وهي ساندي
یا ملنګ سي په تکیه کښې لوی برېتونه
بس ډنډه کچکول کړې یې په لاسونه
د جمعې په ورځ شرنګې کوي فقرونه
که دي غړ وکړ بیا مست کوي جنګونه
دغه ژوند وي د جاهل په فلاکت
لا هنوز لاپې وهي د کرامت
په نو مه کوه د علمه څه غفلت
فائده بیا وروسته نکړي ندامت
دوست په علم کړه مشغول دغه فرصت
ښه وبد یې هم وتاته کړي رجعت
ته که ځان نېکنامه وې او که بدنام
تصور هم کړه جانانه! دا انجام(۱۴)

ملا جانان هغه نباض طبیب دی چې هر وخت یې د ټولني پر نبض ګوتي پرتې وي د ټولني د ناروغیو تشخیص کوي او بیا د د یوه دانا ، بینا ، بصیر حکیم په څیر د هغه ناروغیو د درملني له پاره دارو هم لټوي او له بدو لارو یې اولس رامنع کړی دی د هغو د جملې څخه ځیني منظومې په دې ډول دي

"بد الفاظ مه وایه ،د کنترول او د هغه د بچګانو خیانت،د کنټرول او د هغه د بچه ګانو خیانت ، د بدو تلافي،د ناوړه خویو غندنه،د رشوت غندنه،غلطي اوازي مه اروه ، عبث کار مه کړه، د آزار غندنه،د چغلۍ غندنه،بد دودونه پرېږدی،اسراف مه کوه،د نفاق غندنه
که اویا زره ورقي د نفاق په بدی ډکي ولیکم دابه هم لږ وي په دې رنځ مه سي رنځوره(۱۵)

زموږ دغه پښتون ریفارمست د شعر په پسته ژبه کله کله د ټولني د ژورو ټپونو له تله د ناوړیو "نو" راباسي اوکله کله یې خوږه ژبه د یوه سرجن په تیره نشتر بدلیږي او له سخته انتقادي جنبې کار اخلي له دغه موضوع ځیني نظمونه یې په دې ډول دي "یو بل ته څه وایې پخپله څه کړې ،د عبرت اشنایې ،د ځان صفت پخپله نه دی ښه،د چغل خور غندنه" او نور

د اصراف غندنه

خدایه دا بې ځا مناسبات کې له موږ پاته
ورجي غوښي غواړم شوق مي نسي و ښوروا ته

که چیري میلمانه شو نو هرورمرور به دا وي       مستې او پیریني علاوه ګوري مربا ته
پلو دی مرغ پلو نارنج پلو کوفته پرباندي       پیاله د غورمې پله چلو پروت ها بلې خوا ته
هم غوارمه چکني نرګس کباب دب د انارو       سبزي حلوا پاتي لاوڼ د چرګ راوړه نیک ذاته
کدو دی بل پرخنګ یې بورګی بل قابلي ده       د لاندي پلو ورښیم کباب یې شا و خوا ته
هم پروت لوله کباب او سیخ کباب شامي کباب       کچړی و قیماق چاي پراټې راوړه سبا ته
اچاراو بوراني بانجڼ خلفه به هم حاضر وي       هم آش وهم پوډین شلغم ښه پراته هر چا ته
ماهیان دي بوتلان دي د لیملیټو رنګ په رنګ       دا محض نمونه ده چې مي ذکر کړۀ و تا ته(۱۶)

زموږ دا مهربان خواخوږی مشر زاړی شاعر که کله کله سخته ژبه کاروي نو زیاتره بیا په ډېره نرمه ژبه د پند و نصیحت) مرهم د ټولني پر ټپونو ډېر په ناز ایږدي لږ ځیر شئ په دې دیوان کې د ځینو نصائح د شعرونو سر لیکونو ته لکه " پانیات، په تېر عمر پسي ارمان، خوارِه نصائح، د پټې خولې ښېګړي، د شیطان مکائد، د نصیحت ګټې، نصیحت دی، د ژوند سره جوړ سه، دپسرلي کیف، اوس له دغه عنوانونو یو عنوان شعر د پټې خولې ښېګړي "وغیره

که دي ښه خبر زده وي په ګفتار شه       او که نه دي زده له بدو پر کنار شه
چې له تا سره ښابیرې هسي وکړه       کنه پټه خوله دي شه ده خبردار شه
یو کشپ او یو کارګه سره اشنا وو       کارګه وویل ای کشپه په اظهار شه
چې زۀ ستا سره په څه قسم دوستي کړم       په دا خپل ژوند په یو شي خو طلبګار شه
کشپ وویل ای یاره مراد مي دا دي       که د لاسه دي سي یو وار په قرار سه
زما مقصد لره غوږ ونیسه چې څه دی       بیا هغه وخت له دوستئ څکه اقرار شه
ته تمام عمر الوتی زۀ پر ځمکه       یا مي بوزۀ په هوا او یا انکار شه
کارګه وویل ستا وزر نسته کشپه       ته وزر پېدا که بیانو هوادار شه
کشپ وویل ته په غاړه طناب راکه       زۀ بې ونیسم په خوله بس نو طیار شه
هم کارګه هغسي وکړه په هوا شو       ول نو څه کوې ودوست ته بردبار شه
دوه مرغان په هوا نور تله سره ګډ شو       و کشپ تې ویل غم ته انتظار شه
ول دومره بار پر دوست باندي ښه نه دی       و کارګه تې ویل طناب وشلوه غځار شه
کشپ یوار شو په قهر خوله یې پرې کړه       ول آخر ستاسي په څه زړه مو افګار شه
چې خبرې یې کړې شروع خود را ایله سو       ها کاسي یې شولې ماتې نو هوښیار شه
ای جانانه! پټه خوله درلره شه ده       او که شه خبر پېدا شوه په تلوار شه (۱۷)

ملا جانان اخوند ولي چې پخپله هم یو ښوونکی وو او د کندهار زیات شمیر منورین یې شاګردان پاته شوي دي حتی کله چې ملاجانان اخوند د کندهار په لومړني مکتب تجار کې په ۱۳۰۰ ه ش کې ښونکی وو نو

لوی استاد علامه حبیبي په دغه شپو کي په هم دې مکتب کي زدکونکی وو نو په دې معنی علامه حبیبي هم د ملا جانان اخوندپه شاګردانو کي راځي ځکه نو ملا جانان اخوند په دې ښه پوه دی چي د ټولوني د ټولو بدبختیو علاج که یکي یو شی دی هغه پوهنه ده تر ځو چي کومي ټولني پوهنه نه وي تر لاسه کړې په بدبختیو او بدمرغیو کي به په دوامداره توګه شیکل پاته وي د پوهني د تشویق له پاره یو شمیر شعرونه لري چي په یو شمیر عنوانو کي یې سره را یوځای کړي دي چي ځینې یې له هغو څخه دا دي

د ناپوهي غندنه،د هوښیار ملګري،د هوښیار ملګری ،څه فکر دی په کار،علم،معنی او عنوان،دمعلم (ښونکی) د ورځي ترانه،د کود کوستان ترانه، معلم او شاګرد، د علم ښېګړي ،د اطفالو د جشن په مناسبت ،د ښوونکي د ورځي د پاره،د ښوونکي د وېنا تاثیر د ښوونکي د ورځي ترانه

تل چي پښتانه لري ښه علم و عرفان څه لره بې نه لري لوړ نام ونشان (۱۸)

د پوهني د تشویق په لړ کي د تعلیم سره سره پر تربیت هم ټینګار کوي یعني د ښووني او روزني دواړو پر ارزښت ټینګار کوي لړ ځیر شئ ځیني دغه عنوانو ته چي بشپړه منظومي یې راغلي دي "خوارډوالی تریخ والی، غوره ویل،احتیاج،اولاد ،په کارو کښي دقت کوه،د احسان شیګڼي، خبري او قسمونه،مه کوه په چا و به سي په تا ،له بد خویه کړه تلنه،ښې خبري ،صبر او شکر ،لوی اختر،افسوس چي څه مي نه زده،بد روزګار نه دی ښه ،بد ملګری ، پټه خوله توب، همدردي کوه،خپل ځان سم کړه،د چا بد مه وایه،و بډایانو ته وغیره په دې لړ کي وګورئ نظم

سمه خوله

سنجیده کوه وینا په سمه خوله جواب ورکړه د هر چا په سمه خوله
بې سنجشه به خپلوان ټوله پردي شي پردي خلګ شي اشنا په سمه خوله
که ناپوه سړي پوښتنه درڅخه وکړي قانع کېږي به اغا په سمه خوله
توبه توبه چي هوښیار څه درته وایې زړه یې ښه کړه د دانا په سمه خوله
که دي نه کاووسنجش شوي بې سنجشه څوک به نه کړي جواب ستاپه سمه خوله
نو د بدي خولي اضرار خو دي لیدلي تلافي یې نه شي بیا په سمه خوله
بدي بدي نتیجي ځني راوزي که چا نه کړه اعتنا په سمه خوله
هم دماغ و زړه ملګري د ښه خولې کړه تنها مه کړه اکتفا په سمه خوله
نو حاصل بې دا کړي ژوند به په راحت شي هم به هر کار سي اجرا په سمه خوله
مشکلات به دي ومخ ته نه رسیږي خوشحالږي پاک مولا په سمه خوله
چي خالق درڅه راضي سي سعادت دی هم خلګ وي خوښ له تا په سمه خوله
امتحان وشو چي څوک بده خوله پري کښي نه یادیږي نن صبا په سمه خوله
دا کڅه خوله دلالت په بدخویي کړه د ښه خوی کیږي رڼا په سمه خؤله

خداي د پاره خوله وخوى دواړه ښه کړه　　　　کړي راضي به خلګ خدا په سمه خوله

جانان خواست کوي له ربه په زاريو

چي عادت کړي ستاوزما په سمه خوله (۱۹)

سېل و تفرحې د انساني فطرت د طبيعت ساتني په لومړنيو ضروورياتو کي راځي ملا جانان اخوند په ارمان جانان کي پر تفريح هم يو شمير منظومې لري لکه "د باغ د ميلې شکر ،تېر شو شالمار،د شاه مقصود صاحب د زيارت تګ،د اوس وخت د حسرت او عبرت مېله ،د علي آباد کاريز ميله د دوى په ژبه" او نور

زه چي کله د ارمان جانان و مطالبو ته ګورم نو د انساني ژوندانه سره تړلی کوم اړخ دی چي د ملا جانان اخوند له ادراکه دي وتلی وي د ورځني ژوندانه سر تړلي زياترو اړخونو ته يي پام دی او اولس ته د اولس په ژبه ګډه دی لږ ځير شئ د ټولنيز و توکو ځيني هغه عنوانونو ته چي پوره پوره منظومې يي پر ليکلي دي "اړ،افلاس ،نفس ته خطاب،له خپله ګيله،د احتياط ښېګړي،د ښو توفيق غواړم،پرخپله وعده ټينګ اوسه،پور او پوروړئ،د ټولني د يوه طبيب په څېر د ټولني د اصلاح له پاره رږغ پورته کوي،مدام منت پر بل مه کړه وغيره . يوه بشپړه منظومه يي د کوزدې په خصوص کښي يو اصلاحي رږغ دی"

و زاړه ته لوى تکليف ځوانه کوزده ده　　　　هم وځوان سړي ته مرګ زړه ماينه ده

که په دې باره کښي څه احتياط وشي　　　　بې کوري اوکونډتوب دومره سختي نه ده(۲۰)

ملا جانان اخوند د خپل شعر په هر اړخيز بهير کي کله نا کله خورا دقيقي نکتې هم څېړي او پر هغه نکتو يي بشپړه منظومې ليکلي دي لکه د تقدير پېژندل،د اختيار د تقدير پېژندل وغيره

وبلي خوا ته د انساني روحياتو سره اړه لرونکو دقيقو ستونزو ته يي هم پام دی او پر هغه يي خورا جالب نظمونه ليکلي دي لکه" روحي اغيزي،د خندا او ژړا اغيزه،ښه ګمان،پر بدو خويو ندامت،بې زړه توب،کاهلي لري لوى غم،خويونه خپل کړه سم " وغيره

د ملا جانان اخوند په کلام کي پر ملي روحيه بيخي ډيري منظومې راغلي دي لکه د بيلګي په توګه د افغانستان د بيرغ صفت ،د طن محبت،د عابېه او مبارکي،د خپلوا کۍ د ۴۱ کال د راتلو تبريک، ملي افتخارات وغيره د شهداؤ رږغ

خاونده پښتانه لرې سر لوړه پر جهان　　　　ترڅو چي وي دوران(۲۱)

ملا جانان اخوند که څه هم د مورنۍ ژبي پښتو سره سره په عربي او فارسي کي هم خورا تکړه عالم دی حتی د قران کريم د پښتو تفسير ليکلو هڅه يي هم کړې وه خو ژوند وفا ورسره و نه کړه د جمعو د پاره يي يو شمېر پښتو خطبې ليکلي دي چي د "زين البيان" په نامه چاپ دي "د حج احکام" يي ليکلي دي چي د ده پر علميت دلالت ورکوي خو د دې ټولو تر څنګ يي د خپلي مورنۍ ژبي سره بې کچه ليونۍ مينه د ليدلو وړ ده

او په دغه موضوع کي هم په "ارمان جانان" کي یو شمیر منظومي لري لکه "د پښتو غم خواري، تحسین د پیام اسلام (خادم صاحب ته منظوم لیک) د پښتو په روزنه خوښي" وغیره . کله چي په کندهار کي ادبي انجمن تاسیس شو نو ملا جانان په هم دغه موقع موجود دی او د ده د انجمن ادبي دعائیه موږ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کي یوه غوره منبع بللائي شو

د دې تر څنګ ملا جانان چي د پښتو یو مهم جونګ یې هم لکلی دی "بهار جانان" چي د پښتو شعر د متن د بډاینې یوه مهمه منبع ده او د یو شمیر پېژندل شوو او ناپېژندل شوو شاعرانو ډېر پښتو او لږ فارسي کلامونه یې کي راوړي دي په "ارمان جانان" کي یوه منظومه ده چي په هغه کي یې د خپلو معاصرو شاعرانو یادونه په ډېر غوره انداز سره کړې ده

د تللو محبانو په یاد

چي یادیږي مي په مینه هغه تللي محبان
له فراق یې شوم محزون چي شول بندي دقبرستان

چي یادیږي مي په مینه شناخته خېل د کندهار
چي د دوی په وجود ټوله وطن ماته ګلزار

خصوصا هغه رفیق چي وو راغب کړم یې بیمار
دی خالق ؤ پیدا کړئ یو عجب خلیق انسان

چي یادیږي مي په مینه شاعر ملا عبدالسلام
ؤ د کرز هغه مرحوم او خورا شیرین کلام

ډېرمسکین وو ډېرعاجز وو ښه خلیقت یې ؤ مدام
هرمجلس له چي ورتئ پر هغو باغ وبوستان

چي یادیږي مي په مینه ښه شاعر عبدالله جان
سپین بولدک وو ښار پر ټولو د یوه مخه ؤ ګران

ډېرلائق پردوستئ تینګ هرګوره ډېریې دوستان
وخالق ته کړم زاري چي کړي یې قبر ګلستان

چي یادیږي مي په مینه یو مخلص ؤخوش لسان
په نامه ولي محمد خورا ځیرک او پهلوان

هر مجلس کښي یې صفت کیږې چي خوراؤ نکته‌دان
چي ورتئ به هر محفل ته هغه ګرده ؤ شادان

چي یادیږي مي په مینه ها حیرت عبدالمنان
چي ګډ ؤ په مجلس کښي د عبرت یې کړه بیان

که به ده کړ شکایت لا به په خوښ ؤ سامعان
په اشعارو به یې راوستله خلګ په ګریان

چي یادیږي مي په مینه نورمحمد و غلام صدیق
برخوردار اکا مي ولید سپینه ژیره ښه تصدیق

یوشاعرملا بازمحمد ؤ چي په عشق کښي سو غریق
شوق لالا عجب شاعرپه رقص بې راوستئ جهان

دغه ګرده په سفر د اخرت شوله روان
راڅه هېر شو ها بلبل غلام محمد د مرنجان

بل ګداعبدالنبي چي ؤ پخپله خوش الحان
دا هر یو سي را په یاد ډېرغمزده شم زۀ جانان(۲۲)

ملا جانان نه یواځي په "ارمان جانان" کي "د تللو محبانو یاد" تازه کړی دی بلکه موږ دلته د یو شمیر شاعرانو ویرني هم لیدلای شو چي په هغو کي یې ځیني شاعران او لیکوالان په دې ډول دي قاري عبدالله ملک

الشعرا ،ولي محمد مخلص، د مرحوم ملا محمدعیسی مرثیه،د مرحوم محمد موسی خان مرثیه، د مرحوم حاجي ولي محمد مخلص په یاد ،د مرحوم راغب په یاد وغیره،د نومیالیو متصوفینو په بهیر کي موږ په "ارمان جانان" کي د نامتو تصوفي شخصیت شیخ عبدالقادر جیلاني غوث الثقلین په باب منظومه د بیلګي په توګه یادولای شو

په "ارمان جانان" کي موږ د ویرنو (مرثیو) شره سره موږ ځیني ستاینې( قصیدې) وزمه منظومې هم وینو چي د قصیده ګوئي په زمره کي یي راوستلای شو لکه،د والا حضرت سردار محمد نعیم صاحب ښهٔ راغلی،د ظاهر شاه وغیره منظومې

خدایه په راحت لرې ملت کل د افغان تل دي وي کامیابه محمد ظاهر خان(۲۳)

ملا جانان اخود د عالم ،مفسر، فاضل، محقق، مدقق، مصلح وغیره سره سره د یوه خورا ظریفانه طبع هم لرل هسي د کندهار په زاړو خلګو کي د لوی مخلص حاجي ولي محمد د ظرافت پس د ملا جانان اخوند ډیري ظریفانه کیسې مشهوره وې په "ارمان جانان" که هم له دغه بهیره یو شمر اشعار راغلي دي لکه ،ښه دی ګو ندي موږ سم، د غه دی درواغجن، وغیره

د چلم دود ځګر پارچې پارچې مدام مي خړکی پر روژه مات مي ځګېروری
د بل په جیب کښي ورتوکم خیال د دشوی پرکوم ورک دي سي چائ چلم
چي یې نسوار په خوله کښي واچول نو سیل یې کوه فقط توړی مورزاده
وایې نو وروره په ډې ډېرش کاله نسوار زهٔ کوم ورک دي سي چائ چلم
ای وروره څه وکړم د زړه له درده کړم پېښې وموختلې ریښې(۲۴)

خوښمرې میلمستیا ده

تر نیمو شپو به ناست یم وسترخواته ته مي سودا ده خوښمرې میلمستا ده
له خوبه به ځنګېږم ږغ به نه کړم اصطلا ده خوښمرې میلمستا ده
که کړپ سو د کوکر زړه مي ډېر په خوښحالږي او سترګي بیداریږي
فقط لکه چي ورور مي مسافر اوس یې صدا ده خوښمرې میلمستا ده
زهٔ وږی دوی به وایې اوبه راوړم که چلم بالښت کړې ورته سم
د هرې خوا تصریح چي زموږ ناستې تر صبا ده خوښمرې میلمستا ده(۲۵)

طبیب او ناروغه

راغی یو مریض ول آطبیبه زما چاره وکه ده ول هماله وکه
مریض ویل ای وروره ته خو لږ څه اندېښنه وکه ده ول هماله وکه
مریض ویل ای طبیبه زما مرض دی د اسهال وپیچ اوس درته ولاړ یم نیچ
لږ مي نبض ګوره پر بدن مي نظاره وکه ده ول هماله وکه

بل ناروغه راغی ول پر سر مي وي هر ګوره درد — کاږمه اهونه سرد
ته يې له کتابه لږ تشخيص او جبيره وکه — ده ول هماله وکه
بل ناروغه راغی ويل زما سترګي او غوږونه بيا — ضعف يې ښکاره پېدا
عمر مي ډېر دی تر اتياؤ شماره وکه — ده ول هماله وکه
بل مريض چي راغی ول دا پښې مي دواړي مړې دي زما — دباده کي اوږدې دي زما
جار دي سم طبيبه دا څو کالو دا سکنده وکه — ده ول هماله وکه
څو خبري نوري دا طبيب صاحب زده کړي وې — ښه يې تيزيه کړې وې(۲۶)

په "ارمان جانان" کي د عرفاني شاعرۍ يو شمير منظومې لرو چي هغه د مستقله حمد نعت مناجات علاوه هم په متفرق ډول د ارمان جانان په متن کي ځای پر ځای وينو

د "ارمانان جانان" د شاعرۍ په موضوعاتي تشکيل کي رومانوي او عشقيه شاعري ځان ته يوه لويه برخه تشکيلوي او دا هم يو روښانه حقيقت دی چي د پښتو رومانوي او عشقيه شاعرۍ په بهير کي کندهار ځان ته يو ځانګړی دبستان لري خپل اسلوب او سبک لري چي بنياد يي د عربي او فارسي شاعرۍ پر بديعي او بيانوي پايو ولاړ دی د دې تر څنګ کندهار د هندي سبک په پيروي د متقدمينو کلاسيکي شاعرانو په تتبع کي په لومړي صف کي ولاړ دی او په دغه بهير کي موږ ملاجانان اخوند د دغه دبستان د نمائنده شاعر په توګه د پشتو شعر و ډګر ته وړاندي کولای شو او د "ارمان جانان" شعري افق له دا ډول ځلنده ستور ډک په آب و تاب ځليږي

ملا جانان د هندي سبک په پيروي په هندي موسيقي راګونو کي هم خورا ماهر دی او يو شمير کلامونه په يو شمير هندي راګونو کي لري لکه ،آسا ، اساوري، بروه، بلاول، بهاګ، بيلډنش، بيرو، بيرومي،پهاړي،پيلو ،جوګ،دهناسوري، ديس، سارنګ، ساندره ،سروټ، سهوني،شام کليان،کاندره، کماچ، کستوري،کونسيه ،مالکوس، ملتاني نټ کداړ، نيريز، يمن کليان، هاري کوسي،وغيره

د بديع په لحاظ ملا جانان په بيلابيلو شعري صنعتونو کي خورا بريالی طبع ازمايي کړې ده شعري محاسن يي په پام کي نيولي دي او د خپل اظهار په بيان کي يي اسلوبياتي لوازم هم پسوللي دي مثلا د خپل کلام په لمن کي يي د پښتو بې شميره محاوري په خورا مهارت سره خوندي کړي دي په خپل کلام کي د پښتو متلونو يوه مهمه پنګه زيرمه کړې ده چي د ده پر قادرالکلامۍ دلالت کوي لکه ځيني متلونه چي ده راوړي دي

مه کوه په چا و به شي په تا

الله يو روزي يې ډېري ښۀ متل دی
دغه ښۀ چي يم د خدای اړ هر ساعت(۲۷)
و هوښيار سړي ته نه ښايې دا کار

چي نه کار په هغه څه کار دی عبرت(۲۸)

کاشکي او ستری عقل د مخه وای خونه وشوله

اوس يم د زړۀ پښېمان نه کرم هسي اظهار عبث(۲۹)

يو مثال لا هم پر تېر کړی چي دا هغه

چي ملا مي دي شي زوئ کړي مي بار(۳۰)

ځکه دا متل و ډېرو ته اظهر دی

تر بې عقل دوست هوښيار دشمن بهتر دی(۳۱)

جانانه! دا متل دی له بېکاره خدای بېزاره

خورا موزون ګفتاره (۳۲)

په ګردوديز اعتبار يي هم ځيني کندهاري اصلاحوي راخوندي کړي دي چي په نوره پښتونخوا کي نه کارېږي لکه "نېخه؛ نه يم خبر، څه خه؛ څه خبر يم، خدای خه؛ خدای خبر ، استا' استاد ،ځا، ځای،وا ؛ وايې ، ها ؛ هغه، نې؛ نه يې، تې، ته يې، لې؛ له يې، بې، به يې، کې؛ که يې، مې؛ مه يې، څخې؛ څخه يې" وغيره زه باوري يم چي "ارمان جانان" به نه يوائې زموږ د پښتو شعري متن کي يوه غني اضافه وي بلکه په ټوليز. علمي، ادبي تاريخ کي به هم د يوې غوري منبعې په حيث ځای و مومي

که خدای کول

# حوالې

(۱)زين البيان ، ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهاری سريزه او سمون ډاکټر عبدالروف رفيقي ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز کاسي روډ کوټه ۲۰۱۰ ص الف

(۲) وياړلي ډاکټر عبدالروف رفيقي ډاکټر رفيقي، دافغانستان ملي تحريک د څېړنيز مرکز کاسي روډ کوټه په ملتيا ۳ ټوک ۱۳۹۵ه ش/ ۲۰۱۷ز ص ۱۰۱۶

(۳) دحج شريف احکام ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهاری پېژندنه او څېړنه ډاکټر عبدالروف رفيقي ، حبيبي اکادمۍ چمن فروري ۱۹۹۶ ۱۳۷۶ه ش ص ج

(۴) د ښوونکي مجله کندهار ۱۵، ۱۶، ۱۷ ګڼه ص ,۵۵

(۵)اکبرنامه،فارسي ويونکی حميد کشميري، پښتو منظومه ژباړه ملا محمد شريف جانان کاکړ کندهاری سمعنه، څېړنه او تعليقات ډاکټر عبدالروف رفيقي ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز کاسي روډ کوټه۲۰۱۱ ص۱۴

(۶) وياړلي ۳ ټوک ص ۱۰۱۷

(۷) ارمان جانان خطي نسخه د شاعر ملا جانان کاکړ کندهاري د خپل لاس ليکلې خوندي دا وخت د عبدالرحمان رحماني کندهار نقل ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز ص ۲۴۹

(۸)ارمان جانان خطي ص۲۲۷

(۹)ارمان جانان خطي ص ۱۲۶

(۱۰)پاشلي ويناوي ، مولوي صالح محمد هوتک سريزه ، سمون او څېړنه محمد معصوم هوتک چاپ صحاف نشراتي موسسه کوټه لومړی ځل ۱۳۶۹ ه ش ص ۶۶

(۱۱) د عبدالرحيم هاتف بيوګرافي، عبدالرحيم هاتف پښتو ژباړه عبدالظاهر ځرک چاپ عرفان خپرندوه ټولنه کندهار لومړی ځل ۱۳۹۸ه ش ص ۱۴، ۱۵

(۱۲)ارمان جانان خطي ص ۱۹۴

(۱۳)ارمان جانان خطي ص ۲۳۴

(۱۴)ارمان جانان خطي ص ۳۷۹

(۱۵)ارمان جانان خطي ص ۱۸۵

(۱۶)ارمان جانان خطي ص۱۸۴

(۱۷)ارمان جانان خطي ص ۱۸۶

(۱۸)ارمان جانان خطي ص ۱۶۲

(۱۹)ارمان جانان خطي ص ۱۹۸

(۲۰)ارمان جانان خطي ص ۱۸۹

(۲۱)ارمان جانان خطي ص ۱۶۱

(۲۲)ارمان جانان خطي ص ۱۷۱

(۲۳)ارمان جانان خطي ص ۱۶۰

(۲۴)ارمان جانان خطي ص ۱۳۲

(۲۵)ارمان جانان خطي ص ۲۰۰

(۲۶)ارمان جانان خطي ص ۱۸۶

(۲۷)ارمان جانان خطي ص ۴۵

(۲۸)ارمان جانان خطي ص ۵۱

(۲۹)ارمان جانان خطي ص ۵۵

(۳۰)ارمان جانان خطي ص ۸۰

(۳۱)ارمان جانان خطي ص ۸۶

(۳۲)ارمان جانان خطي ص ۱۳۵